محمد یوسف صابر ساپی
۲۰۱۸/۰۶/۰۳

# د غفلت له خوبه او د خرافاتو له نیشی رابیدار شوی ولس

یو چیغه شه، تپه کړه رابیدار کړه عالمونه     پــه خاوره د پښتون وکـړه د امن آوازونه
ولاچې که نې دغه بی حسي دې رانه وژني     پښتونه! دا قاتله خاموشي دی رانه وژني

د قاتلي زماني د ناکردو په مقابل کې، کني د خالد حسرت چيغې او د کروړونو کروړونو، در په دره پښتنيي کونډو او يتيمانو ناري سره ګډي شوې، شور شو او زوږ شو، سيلاب شو او غورځنګ شو؛ د پښتون ژغورني غورځنګ ترې جوړ شو، چې هيله ده داخل پښتانه ځانونه د «غلامانو له غلامی» څخه د هميش له پاره بشپړ وژغوري او خپل برخليک په خپل لاس کې واخلي.

داخل ښکاري، دغه بومي غورځنګ، د خدايي خدمتګارانو د غورځنګ څخه په توپير کې، په مناسبه دننۍ، سيمه ييزه او نړيواله وضعه کې راپورته شوی دی.

اوسنی پښتني غورځنګ، په وروستيو څلورو لسيزو کې د پښتون وژني او پښتني خاورې او فرهنګ ايلولو په مقابل کې، د ننه په پښتنو کې شعوري پيل شوی دی. د پښتنو سره په دښمنۍ کې پنجابي پوځ او آی. اس. آی. چې څو لسيزې د مخه کمزورې، اجيرې شبکې وې، په برې پښتونخوا کې د فاجعې له کبله، اوس د يو پياوړي ځواک په توګه ځانته دومره غره دی، چې پر پښتني خاوره يې د تيرې پېښې آن د زاړه استعمار له پولو هم هاخوا کينودلې، د ناترسه اپريديو باندې يې ايل کړې؛ د سوات سپيڅلې غرنې کلي يې د خپلو ناولو موزو لاندې کړل؛ په ننګ، ناموس او خاوره له سره تير وزير يې په رياستي ترهګرې سره پسي واخيستل او په پنجابي پاټکونو کې يې بې عزته کړل.

پښتنو ته په يو موټي غورځنګ کې د راټوليدو او د مبارزې پرته بله لار نده پاتې. نوموړی غورځنګ چې د بيسارې ښايسته پښتون ځوان نقيب الله ميسود او د هغه په څير د زرهاوو ځوانانو د وژنې په انګيزه پيل شوې، په سر کې يې



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د منظور پښتون په څیر با شعوره زړور پښتانه ولاړ دي. پښتانه ولسونه په پرانیستو سترګو ورسره ولاړ دي. د کلاسیک استعمار د دوران په خلاف چې ولسونه د غفلت په خوب بیده او د خرافاتو په نیشه بې خوده وو، نن ډیر پښتانه روښانفکران د سیمې او نړۍ سیاسي بهیر څخه آګاه او ورسره یو ځای روان دي او ددې غورځنګ فعال غړي دي، نور ټول پښتني سازمانونه، د یو- نیم پلورل شوي یا د افراطیت په نیشه مست کسانو پرته، ورڅخه آګاهانه ملاتړ کوي.

دغه د ننني جنبش په مساعد سیمه ییز حالت کې قوت اخلي. نه یوازې د لرې او برې پښتونخوا ولسونه، بلکې د هند خلک هم د پاکستاني دولتي ترهګرۍ څخه په سپیړمو راغلي دي. په افغانستان کې د وروستي تروریستي بهیر شدت او د الکترونیکي تذکرو د ویش بندولو په بهانه د شعله یي - ستمي پډرام ماجراجویي له پاکستاني دولتي تروریزم څخه سرچینه اخلي.

د افغانستان خلک د جګړې او ترور څخه د تیښتې هیڅ لاره نه لري، په غیر ددې چې د پاکستاني دولتي تروریزم د بلا څخه ځان خلاص کړي. د بلا څخه په تیښته نه شي خلاصیدلای، لکه څنګه چې تراوسه پورې د افغانستان دولت او هم د لرې پښتونخوا مشرۍ کړې دي. بلا په زور ښکېل کیږي.

نه یوازې د افغانستان، هند او بنګال خلک، نه یوازې پښتانه، بلوڅان، سندیان، بلکې د یو ممتاز قشر پرته، د پنجاب عام ولس هم د پاکستاني دولتي ترهګرۍ په اور کې کړیږي.

د غورځنګ د پیاوړتیا له پاره د ننني او سیمه ییزو غوره شرایطو سربیره، نړیواله وضعه هم د نورو وختونو څخه په توپیر چې هیڅکله به پښتنو خارجي ملاتړ نه درلود، نن ښکاري چې د پاکستان دولت د انګریزي استعمار د ناجایزه او نااهله اولاد په څیر، د خپل ولي نعمت پر خلاف هم څو مخې سیاست کوي، په دغه ډول حالت کې پښتني غورځنګ نړیوال خواخوږي هم پیداکوي. ښایي تصادفي نه وي چې په امریکا غږ - ډیوه راډیو کې د پښتون ژغورنې غورځنګ د غونډو بهیر او په هغو کې د ګډونوالو غوښتنې په تفصیل سره انعکاس مومي.

د پښتنو په سیمو کې د افراطیت لمن ټولولو له پاره، د هغه مارشال پلان په ځای چې باید د نړیوالې ټولنې په میلیاردونو مالي مرستو سره سرته رسیدلې وای: ښوونځې او پوهنتونونه جوړ شوي وای، لیک او لوست عام شوي وای، د سیمې انفراسترکتور کې بنسټیز بدلون راغلی وای، سړکونه جوړ شوي وای، روغتونونه ودان شوي وای. . . د پاکستان دولت د تروریزم سره د مبارزې په نامه، د امریکا په مالي مرستو، د ۲۰۱۴م کال راپدې خوا، دلته کلي په کلي، کور په کور پوځي او استخباراتي عملیات سرته ورسول. د عملیاتو اصلي موخه، لکه څنګه چې ښکاره شوه، د پښتني آزادیخښونکې مقاومت ماتولوله پاره جنوساید او د ډیورنډ د کرښې په اوږدو کې د خپلو پوځي تانو ځای په ځای کول وو.

د عملیاتو د اصلي موخو د پټولو له پاره پاکستاني چارواکو په امریکایي دیپلوماتانو او چارواکو، د بې امنیتي په بهانه، بندیزونه لګولي وو. لکه څنګه چې په پښتو کې متل دی: لمر په دوو ګوتو نه پټیږي. ژر ټولې دنیا ته د پاکستان دولتي ترور ماهیت بربنډ شو. امریکا هم د پاکستاني دیپلوماتانو په تګ راتګ د بندیز پریکړه وکړه.

دا ټول د اوسنی نړیوالي وضعي بيلابيل فاکتونه دي چې د پښتنو د ژغورني غورځنګ په کي ځانګړی قوت ترلاسه کولای شي.

د پښتون ژغورني اوسنی غورځنګ که څه هم د پښتنو ټول تاريي برخليک سره تړلی دی، بيا هم ځلمی دی او د ځينو تکړه سياست پوهانو په غړيتوب او د تجربه لرونکو پښتني سياستوالو په ملاتړ سره سره، په رأس کی يی فعال ځوانان ولاړ دي چې ښايي لا د سياست په علم او فن کی، زيات مهارت ته اړتيا ولري.

د غورځنګ تکتيکي غوښتني لکه د پښتنو د بنيديانو خلاصون، د ورکو پښتنو لټون، د پښتنو په خاوره کې د پنجابی پوځ په پاټکونو کز د پښتنو بی عزتي ختمول. . .غوره او ضروري څيزونه دي، خو که غورځنګ د پښتنو ستراتيژيکي هدف چې هغه د پنجابی واکمنی څخه بشپړه آزادي او د برو پښتنو سره يو ځای يا د هغو تر څنګه خپلواکه ژوند کول دي، له پامه وغورځول شي، د تکتيکی برياوو په صورت کي به هم د ستراتيژيکي ناکامی سره مخامخ شي، لکه څنګه چې د پښتنو د آزاديخښونکی مبارزو په اوږدو کي داسي بيلګي ډيرې دي.

استعماري جبر پښتانه سره په لر او بر،بيا په قبايلو او نورو او نورو ويشي دي. د ټولو پښتنو يووالی يو ستر او سپيڅلی ارمان دی. پدې لار کي هر ګام غنيمت دی. په خيبر پښتونخوا کي د قبايلي سيمو ورګډول، په ظاهر کي، د پښتنو د يووالی په لار کي يو ګام دی، اما په خپل ماهيت کي، دا يو بل ويش دی. تر هر څه دمخه د فاټا په هکله په خپله د پښتنو نظر او دريځ په دوو برخو ووېشل شو: د نشنل عوامي پارټی په شمول، نيمايي پښتانه دا د پښتنو د يووالي په لور او د اف. سی. آر. د تور قانون څخه د خلاصون په وجه، يو برى بولي؛ اما نور: زياتره په خپله قبايلي پښتانه، بر پښتانه او د پښتونخوا عوامي پارټی . . . ، دا ادغام – د آزادو قبايلو په غاړه کي د پنجابی آيين د اسارت طوق اچول ګني.

په واقعيت کي ، د خيبر پښتونخوا په صوبه کي د قبايلی سيمو د ادغام اصلی هدف، چې د دريو کلونو راهيسي پرې بحث روان ؤ، په دغه زماني مقطع کي، د پښتون ژغورني د غورځنګ رسا غږ ټيټول دي، هغه معجزه آسا غږ چې د زور په غرور کي ډوب پنجابي پوځ او دولت يي لړزولی دی؛ د عدالت غوښتني هغه لوړ غږ چي د تاندې په څير ټولې دنيا ته رسيدلی دی.

په داسي حال کي چز ټول پښتانه، لر او بر، ځوانان، پوهان، ديني عالمان، ښځي . . . ښايي د پښتون ژغورني د غورځنګ غړی او ملاتړ شی، ټول په يو غږ برم شی، قوت شی او خپل ستر ارمان ترلاسه کولو ته ودانګي، په دوو برخو وويشل شول، په رسنيو کي د ورځي موضوع د پښتون ژغورني مسأله نه، بلکي د ادغام مسأله ده. پنجابيانو دا ځل پښتانه د يووالی په لور يو ګام ته وړاندې کړل، اما د پنجابی ائين په اسارت او پښتون ژغورني غورځنګ په ماتولو کي يي دوه ګامه شاته ټيل وهل.

د پښتني سيمو د بشپړ ايلولو د ستراتيژي پربنسټ،پنجابي پوځ او آی.اس.آی. په ۲۰۱۴م کال کي په خپلو عملياتو کي زور او تشدد (hard power) وکاروه،په زرهاوو پښتانه مشران او آزادي غوښتونکي ځوانان يي ووژل، اما دغي عام وژني مقاومت وزيږوه،ژونديو او د «شهيدانو ارواحو» د پښتون ژغورني غورځنګ جوړ کړ؛ په خيبر پښتونخوا کي د قبايلي سيمو ادغام ، د همغي ستراتيژي دويمه برخه ده، چي دلته مدني وسيلو(soft power) څخه استفاده وشوه، عدم

تشدد تر تشدد پیاوړی نیرو ده،مقاومت نه زیرووي، د افرادو تحت الشعور څخه تیریږي، په خپله پښتنو ورته لاسونه پورته کړل.

سیاست پیچلی لوبه ده. پنجابیانو «تاوان کې ګټه وکړه، موږ په ګټه کې تاوان».

اما لا تر اوسه د ټولو پښتنو د امید ستړګې د پښتون ژغورنې غورځنګ په لور دي.

د منظور پښتون پدې نظر چې: نه ویریږو، نه پلورل کیږو. . . پوره باور کولای شو، اما ښایي د غورځنګ مخکښان په سیاست کې د پښتنو ټیپیکي تیروتنو ته پام وساتي. پښتانه مشران ډیر کله سیاست د سیاسي اصولو پر بنسټ نه، بلکې د پښتني اخلاقي موازینو پر بنا یعنی څه چې وایي، هغه یې عقیده وي، پرمخ بیايي. د عدم تشدد هغه لوړه انساني کرنلاره چې خدایي خدمتګارانو پر مخ بیوله، لکه څنګه چې با چا خان پرې خپله اعتراف کوي، د هغوی عقیده وه، اما د کانګرس سیاست ؤ. . .؛ اسلام او اسلامي شریعت چې په ساتنه کې یې طالبان له حده زیات تشدد ته لاس اچوي، د هغوی عقیده ده، اما د پاکستان د دولت سیاست دی...

په سیاست کې همدغه تیروتنه د پښتنو د ستراتیژکي ناکامی سبب ګرځي. په اوسني سیاست کې بری هغه وخت ترلاسه کیدای شی چې د علم په توګه یې هضم او د فن په څیر یې کسب کړي. په نننی عصر کې د علم او فن په توګه د سیاسي تکتیک او ستراتیژي زده کړه او تدوین د بری حتمی شرط او فقدان یې بیراهي ته رسیدل دی. د سیاسي تکتیک په توګه، د پاکستانی آیین او عدالت په چوکاټ کې د پښتنو د حقوقو اعاده او د پښتنو د عاجلې ژغورنې لټون، ښایي معقولیت ولري، اما هغه آیین او «عدالت» د کومو پربنسټ چې پښتانه بې کوره شوي، قتل شوي، بې عزته شوي او تر ټولو بدتر د غلامانو غلامان شوي، د غورځنګ نهایي هدف په توګه ټاکل، ښایي نوبتي تاریخي تیروتنه وي چې پښتنو ته به د اوږدې مودې د غلامي طوق په غاړه ساتلو معنی ولري.

د ریا اسلام په نامه پرونی پنجابي مکاره «دوست مشران»، نن د پښتنو قاتلین دي. په سیاست کې دایمي دوست او دایمي دښمن نشته، لکه څنګه چې انګریزان باور لري: هغه څه چې دایمي دي، هغه ملي ګټې دي. پښتنو ډیر کله خپلې ملي ګټې د سیاسي شعور د کچې د ټیټوالي له کبله، کله د دوستی او کله هم د دښمنی قرباني کړي دي. پښتنو د روسانو سره د عقیدوي تضاد پر بنسټ، دښمني کړې ده، کله یې هم د هند سمندر تجارتي او پوځي بندرونو ته د لاس رسي له پاره د روسانو د ستراتیژیکو هڅو او د لرو برو پښتنو د یووالي له پاره د پښتنو د هڅو ګډون ندی لیدلی. که نن لودیز دولتونه غواړی د پاکستان دولت په خلاف، د خپل ناخلفه اولاد په څیر چې د خپلی برستن څخه یې پښی بهر ویستلی دی، د پښتون ژغورنې غورځنګ څخه ملاتړ وکړی او یا غواړي د فشار وسیلی په توګه یې وکاروی، د غورځنګ مشرانو ته ښایی د خپلو ستراتیژیکو ګټو د شرکت تر پولو پوری، مستقلانه ورسره هم لاری شی، باوقاره دوستی ورسره وکړی لکه فیدل کاسترو چې د امریکا تر زنی لاندی په دښمنی کې، د شوروی سره دوستی کوله او چې شوروی ړنګه شوه، د فیدل کاسترو دولت ثابت ولاړ پاتې شو، نه لکه د افغانی «انقلابی» مشرانو دوستی چې د شوروی اتحاد ړنګیدو سره ددوی نفس هم ووت. اما د طالبانو د غورځنګ سیاسی تجربه نباید له پامه وغورځول شی، هلته چی د طالبانو جنبش د لودیزی یوی پروژی په توګه وکارول شوه. طالبان د لودیزوالو په نوښت، د پاکستان دولت په اجرائیوی او سعودی عربستان په مالی مرسته او د پښتنی ولس په ملاتړ سره واک ته ورسیدل، اما ډیر ژر د همدغه لودیزو ځواکونو

له خوا، په سیمه کې د خپل پوځی موجودیت له پاره، په بی رحمی سره وټکول شول. ننني نړیوال سیاست د پرون په څیر، مور او پلار نه لری.

سیاست د نړۍ په لوی سمندر کې د احتمالي توپاني څپو په منځ کې د خپل ملت د بیړۍ د پرمخ بیولو او اداري فن او مهارت ته ورته دی. هغوی چې عقیدوي او ایډیالوژیکي سیاست کوي، د خشن نړیوال سیاست څپې یې بیړۍ، لکه د خدايي خدمتګارانو، لکه د خلقیانو، لکه د طالبانو. . . غرقوي....

هر ولسي غورځنګ د ستراتیژیکي پلان پرته چې دوامداره باید تدوین شي، یواځې په تکتیکي غوښتنو او آن بریا وو سره، خپلو خلکو ته د ګټو په ځای، آن جبران نه منونکي زیانونه رسولی شي. غورځنګ ښايي د پوهانو یوه ډله پر ځان راټوله کړی. «هره سیاسي، فرهنګي او حتی اقتصادي تجمع د پوهانو پیاوړې ډلې ته اړتیا لري، پرته له هغې هرو مرو د ماتې سره مخامخ کیږي او د نیستی کندې ته غورځي».

د تاریخ په محکمه کی یواځې ظالم د خپل ظلم او ناروا له کبله مسؤول نه دی، بلکی مظلوم هم تر هغې زیات مسؤول دی چې ولې د ظالم په مقابل کې نه دی ودریدلی.

د غلامی سرټیټی ژوند څخه د ملنګ جان ریښتینی ارمان زرځلي شرف لري چې وایي:

نه غواړم تلتک کې مرګ، نه مې دی رنګ ژیړ خوښ
خدایه، ما شهید کړې د وطن د آزادۍ په ننګ